

د نوی مسلمان لارښود

اسلام څه شی دی؟

Syaikh Dr. Haitsam Sarhan

دليل المسلم الجديد، ما هو الإسلام؟

للشيخ د. هيثم سرحان

د توحید قسمونه: 3

توحید وای: الله پاک یو منل په هغه شیانو کی چه هغه پوري خاص وی کوم چه اره لری د هغی د ربوبیت سره او الوهیت سره او نومونو او صفتونو سره.

توحید په دری ډوله دی:

توحید ربوبیت

توحید ربوبیت ویل کیږی: الله جل جلاله یو منل په خپلو کارونو کی. یا دا عقیده لرل چه الله پاک - په ځانګړی توګی سره. پیداکونکی بادشاه آو پالونکی د مخلوق دی .

توحید الوهیت

توحید الوهیت ویل کیږی: عبادت صرف د الله کول. یا عبادتی عملونه صرف الله لپاره خاص کول.

توحید اسماء او صفات

توحید اسماء او صفات ویل کیږی: الله منل په ځانګړی توګه سره خپلو هغه نومونو کی او صفتونو کی کوم چه یی خان لپاره خاص کړی دی په خپل کتاب او یا د خپل رسول په ژبه باندی . چه ثابتوی به هغه نومونه او صفتونه چه ثابت کړی دی الله پاک خپل خان لره پرته د معلولیت یا تحریف نه او پرته دکوم کیفیت او مثال بیانولو نه.

د دین دری درجی او مراتب دی

اسلام

اسلام ویل کیږی: تسلیمول الله لره په یو والی باندی. او تابعداری کول دهغه په اطاعت کی. او دشرک او اهل شرک نه براءت کولو ته وای.

د اسلام ستنی 5

1-شهادت دوه کلمی.
2-لمونځ قایمول.
3-زکاة ورکول.
4.د رمضان میاشتی روژه نیول.
5-دالله دکور حج کول هغه چا لپاره چی د تګ توان لری.

ایمان

ایمان ویل کیږی: په ژبه ویلا او په زړه کی عقیدة او په اندامونو او عناصرو دجسم عمل کولو ته وای .زیاتیږی او کمیږی.

د ایمان ستنی 6

1- په الله ایمان لرل.
2- په پرینبتو ایمان لرل.
3- په اسمانی کتابونو ایمان لرل.
4- په رسولانو ایمان لرل.
5- په آخرت ایمان لرل.
6- په تقدیر دخیر او شر ایمان لرل.

احسان

احسان ویل کیږی: د الله داسی عبادت کول لکه ته چه هغه وینی. او که ته هغه نه وینی نو هغه بنو تا وینی.

احسان یوه ستنه لری چه لاندی یی دوه مرتبی دی:

1 لیدلو په حال عبادت کول.
یعنی: د الله داسی عبادت کول لکه ته چه هغه وینی.
2 د څارنی په حال عبادت کول.
یعنی: او که ته الله نه وینی نو هغه خو تا وینی.

حرام کړی شوی برخی 4

لوی شرک

ددین څخه د وتلو لاره ده. نه بخښل کیږی ځوک چی په دی باندی مر شی. مشرک دالله پاک سره شریک جوړوی او غیر الله رابلي -دحاجت په وقت کي- لکه څنګه چی الله پاک ته بلنه ورکوی. یا د هغی څخه ویره لری . یا د هغه سره مینه لری له څنګه چی هغه د الله پاک سره مینه لری. یا هغه ته دعبادت یو ډول وقف کوی.

وړوکی شرک

• د دین نه پری سوک نه وځي. له لویو ګناهونو څخه لویه ګناه ده.
• لکه داسی ویلا کول: که ستا او د الله یکي خوښه وی.
• له الله پاک پرته په بل چا قسم کول.
• زان ښودانه په نیک کارونو باندی.
• شرکی تعویذونه کول.
• بد پالی نیول او نا امیدی کول.
• لاسونه او کونجکی خرول د خان ساتلو یا دبد نظر د مخنیوی لپاره .

لوی ګناهونه

هری هغی ګناه ته وای چی خانګړی سزا پری مرتب کیږی.

لکه: جادو. د مور او پلار نافرمانی . سود. زنا. لواتت. دروغ ویل . شراب څښل. غلا. غیبت . دهغه نفس وژل چی الله تعالی حرام کړی دی پرته له حقه. یتیم مال خوړل.


واړه ګناهونه

د لویو ګناهونو لاندی ګناهونه دی لوی ګناهونه د بخښنی په غوختلو سره له منځه خي -معاف کیږی- او واړه ګناهونه په دوام سره لوی کیږی. نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی: له کچنیو ګناهنو زان وساتی. خکه چی دا په سړی راجمع کیږی تر دی چی هلاک یی کړی.


2 د اودس او تیمم او غسل کولو طریقه

د اودس طریقه


1. په زړه سره به د اودس کولو نیت وکړي، بیا به "بسم الله " وو ایي، بیا به خپل دواړه لاسونه ومینځي.




2. بیا به د خپل ښې لاس په لپه کې اوبه راواخلي، او مضمضه به وکړي یعنې(په خوله کې به اوبه واچوي او خوله کې به يې تاو راتاو کړي)او بیا به له خولې نه اوبه وغورځوي بیا به استنشاق وکړي: یعني(په پوزه باندې به اوبه راکش کړي) بیا به استنثار وکړي: یعني(د چپ لاس په موتی او د تشهد په ګوته به پوزه سوڼ کړي).




3. بیا به خپل مخ ووینځي "چې د ویښتانو د عادي راختلو ځای څخه د ږیرې او زنې تر پایه پورې په اوږدوالي سره او د دواړو غوږونو تر منځ عرضًا "




4. بیا به دواړه لاسونه د ګوتو سرونو څخه تر څنګلو پورې ومینځې، له خپل ښې لاس څخه به شروع وکړي بیا به خپل چپ لاس ومینځي.




5. بیا به په خپل ټول سر مسح وکړي، دواړه لاسونه به د سر له مخې برخې څخه د سر تر شا پورې تېر کړي، بیا به يې د خپل سر مخې ته راوګرځوي.



6. بیا به د غوږونو په سوړو کې خپلو دواړو ګوتو سرونه دننه کړي او په موټی ګوتو به د غوږو بهرنی برخه مسح کړي.



7. بیا به خپل دواړه پښې د دواړو ښینګرو سره ومینځي.



8. **په مشروع مقدار باندې د زیاتو اوبو استعمالولو حکم؟**

په اودس کې له ټاکلې اندازې څخه زیاتې اوبه استعمالول جایز نه دی لکه له دریو ځلو څخه زیات د یو اندام مینځل، یا د څنګل نه پورته د مټ څه برخه مینځل، یا د ښینګرو نه پورته د لینګو څه برخه مینځل او یا دا چې غاړه مسح کړي.



9. **او له اودس نه د فارغېدو وروسته دې :**

"أَشهَدُ أَنَّ لا إِلَهَ إِلا اللهُ وَحدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ ، وَأَشهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبدُهُ وَرَسُولُهُ , اللَّهُمَّ اجعَلنِي مِنَ التَّوَّابِينَ واجعَلنِي مِنَ المُتَطَهِّرِينَ" وو ایي.

10. **- د اودس ماتوونکي شیان :**

1- هغه څه چې د مخکې او وروسته عورت څخه خارج شي، لکه: واړه یا غټ بول، او یا باد .
2- د عقل زایله کیدل په خوب یا بې هوشی سره .
3- د اوښ غوښه خوړل.

د تیمم طریقه.


1. **تیمم :**

تیمم د اوبو د پاکوالي بدیل دی کله چې پاکوالي په غړو کې د اوبو استعمال نا شوني وي، او یا اوبه لرې وي یا د اوبو د استعمالولو څخه د ضرروېره لرې، دې وخت کې په خاوره تیمم کول د اوبو ځای نیسي.

2. په زړه سره به د تیمم نیت وکړي، او بسم الله به وو ایي، بیا به ځمکه په دواړو لاسونو یو ځل ووهي، او د دواړو لاسونو په دننه برخه به خپل مخ او د دواړو لاسونو شا مسح کړي.



3. د ګوتو پراخول د ځمکې د وهلو په وخت کې مشروع نه دي , او نه د ګوتو خلالول(ګوتې په یو بل کې ننباسل) شته په وخت د مسح کولو د لاسونو کې .



د واجب غسل طریقه

1. په زړه سره به د غسل نیت وکړي،او بسم الله به په پټه وو ایي، بیا به په ټول بدن باندې اوبه واړوي او د ټولو ویختانو (که ګڼ وی او که رنګه وي) بیخونو ته اوبه ورسوي او خولې او پوزې ته به اوبه واچوي.

2. **- د غسل واجبوونکي شیان :**

1- لومړی جنابت: او جنابت حاصلیږي په خارجیدلو د مني سره، که د کوروالي په وجه وي او که بله وجه، او که د سرې او ښځې عورت یو ځای کېدلو سره وي.
2- د حیض او د نفاس د وینې خارجېدل. 3- د شهادت پرته مرګ. 4- د کافر مسلمانېدل.

ترتیب کوونکی : دکتور هیثم سرحان، په مسجد نبوي کې مدرس، او په "معهد السنة" باندې نظارت کوونکی :
« mahadsunnah.com »



د چاپ کولو او نشرکولو او د توزیع کولو حقوق د هر چا لپاره شته - ژباړې لپاره پروتنی لینک ووهی. یا بارکود راکاږئ.

درسول الله د لمانځه طریقه.. ﷺ

1


ژباړه: د امام او منفرد دواړو لپاره سترې ته لمونځ کول سنت طریقه ده, او د امام ستره د وروسته مقتدیانو لپاره هم ستره ده.

ژباړه: او د سجدې ځای ته به ګوري او یو طرف یا بل ته به التفات نه کوي.




1

ژباړه: او د دواړو قدمونو ترمنځ به دومره فاصله راولي څومره چې یې د اوږو ترمنځ فاصله ده, او له دې څخه به نه زیاتوي او نه به یې کموي , او قدمونه به بهر طرف نه دواړه بر ابروي.




2

ژباړه : کله چې په ټولو شرطونو سره راتګ وکړ, بیا به "الله اکبر" وو ایي, سره د لاسونو اوچتولو نه د غوږو یا د اوږو بر ابر پورې چې ګوتې به یې پېوسته شوي وي, او د دواړو لاسونو ورغوی به یې قبلې لوري ته وي.



3

ژباړه: بیا به "پخپله سینه" باندې د خپل ښي لاس دننه حصه د چپ لاس په بهرنۍ حصه په مړوند او مټ باندې دې کېږدي او یا دې قبض کړي «ونیسي» .



4

ژباړه: بیا ورته یواځې په لومړي رکعت کې "دعاء الاستفتاح" ویل مستحب دي. او غوره طریقه داده چې په ټولو ثابت شوو دعاګانو وو ایي چې کله یوه او کله بله. لکه یوه دعا داده: سُبحَانَك اللّٰهم وبحَمْدِك وتبارك اسْمُك، وتعالى جَدُّك، ولا إله غَيْرك".

ژباړه: بیا به اعوذ بالله وو ایي, په هغه الفاظو چې صحیح ثابت شوي, لکه چې و ایي به "أعـوذُ بـاللهِ منَ الشيطانِ الرجيمِ".


ژباړه: بیا به بسم الله الرحمن الرحیم وو ایي, او سورت فاتحه به ولولي, په صحیح ترتیب د ایتونو او کلماتو او حروفو او حرکاتو سره.

بِسْمِ اللَّـهِ الرَّحْمَـٰنِ الرَّحِيمِ ﴿١﴾ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٢﴾ الرَّحْمَـٰنِ الرَّحِيمِ ﴿٣﴾ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ﴿٤﴾ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴿٥﴾ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿٦﴾ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ﴿٧﴾

ژباړه: بیا مستحبه طریقه داده چې د اعوذبالله نه به بغیر د قر انکریم کوم اسان أیاتونه وي ورته هغه دي تلاوت کړي, او بسم الله به یواځې په اول د سورت کې لولي.

5

ژباړه: بیا به دواړه لاسونه اوچت کړي لکه څرنګه یې چې په لومړي تکبیر کې او چت کړي و, او "الله اکبر"به وو ایي, او رکوع به وکړي, او زنګونونو باندې به خپلې منګولې ولږوي, او خپلې څنګلې به نه راټولوي ,او خپله ملا به د سر سره بر ابره کړي, او وجوبا «خامخا» به یوځل "سبحان ربي العظیم " وو ایي. او مستحبه ده چې هغه دېرځله وو ایي او کومې نوري دعاګانې چې حدیث کې راغلي دي.




6

ژباړه: بیا به راوچتیدلو سره سم چې لا درېدلی نه وي "سمع الله لمن حمده" وو ایي. سره د لاسونو اوچتولو نه د غوږونو یا د اوږو بر ابر فوري.

ژباړه: پس کله چې بر ابرودرېده "ربنا ولک الحمد "به وو ایي, او مستحبه ده چې نور هغه اذکار پکې إضافه کړي کوم چې په حدیثونو کې ثابت شوي.


ژباړه : او بیا به بغیر د دواړه لاسونو اوچتولو نه تکبیر وکړي, او په اووه اندامونو به سجده وکړي, کوم چې تندی, د دواړه لاسونو دننه حصه, دواړه زنګونونه , او د پښو د ګوتو دننه حصه ده تول به فه زمکه ولګوي.

ژباړه: او جداوالی به راولي د څنګلو او د خیټې او ورون ترمنځ, او د ورون او لېنګو ترمنځ, او خپلې څنګلې به د ځمکې نه اوچتې ساتي.




7

ژباړه: او بیا به "سبحان ربي الأعلى "یو ځل وجوبا «خامخا» و ایي, او مستحبه ده چې کوم اذکار ثابت دي دېرځل یې وو ایي, او هره دعا چې یې خوښه وي کولای یې شي, خو غوره داده چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه ثابت شوې دعاګانې وو ایي.



8

ژباړه: بیا به تکبیر وکړي او پخپله چپه پښه به وغوړوي او فري کې به ني.
او ښي پښه به ودروي او ګوتې به یې قبلې ته کړي, او خپل دواړه لاسونه به د ورون په اخري حصه کېږدي,او وبه و ایي"رب اغفر لي" دارنګه ناسته به په ټولو ناستو کې کوي, بغیر د دري رکعتي او څلوررکعتي لمونز اخري قاعدې نه چې هغې کې به «تورک کوي» , تورك معنی داده چې خپله چپه پښه به د ښي پښي لینګو نه لاندې کړي «او چپ کوناتي به فه زمکه ولګوي»



9

ژباړه: بیا به تکبیر وکړي او د لومړی سجدې غوندې سجده به وکړي, بیا به تکبیر وکړي او دویم رکعت ته به پاڅیږي, او د لومړي رکعت غوندې اعمال دې پکې وکړي, یواځې توپیر پکې دا دی چې دویم رکعت کې د احرام تکبیر او د استفتاح دعاء نه نشته.

ژباړه: کله چې د دویمې سجدې نه فارغه شي د تشهد لپاره دې کښیني.

ژباړه: او د تسبیح , تشهد په ګوته به اشاره کوي,او منځینۍ او موټی ګوته به راغونډي کړي, هغې ته به حرکت ورکوي او دعاء به پرې کوي.



ژباړه: او تشهد به وو ایي, او بیا به ابراهیمي درود وو ایي هغه داسې: « التحيات لله، والصلوات والطيبات، السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته، السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين، أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله ، اللهم صل على محمد وعلى آل محمد، كما صليت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم؛ إنك حميد مجيد، اللهم بارك على محمد وعلى آل محمد كما باركت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم ؛ إنك حميد مجيد.

ژباړه: بیا به د څلورو شیانو نه پناه وغواړي, کومې جه فه لاندې دعاء کې دي؛ او وبه و ایي: « اللهم إني أعوذ بك من عذاب جهنم ، وأعوذ بك من عذاب القبر ، وأعوذ بك من فتنة الدجال ، وأعوذ بك من فتنة المحيا والممات » ،او دعاء به وکړي په هغه چې ددې خوښه وي، او غوره داده چې هغه دعاګانې وکړي کومې جه حدیثونو کې ثابت دي, سره د دې وینا نه: « اللهم أعنّي على ذكرك وشكرك وحسن عبادتك ».

ژباړه: بیا به دوه سلامه ښي او چپ لورې ته واړوي, او وبه و ایي «السلام علیکم ورحمة الله» او یواځې سر به ښي او چپ لورته ګرځوي نه اوږې, او دارنګه سر ته به هم بره او خکته طرف ته حرکت نه ورکوي, او نه به په لاسونو اشاره کوي.

10

« ترتیب کوونکی: دکتورهیثم سرحان, په مسجد نبوي کې مدرس, او په "معهد السنة" باندې اشراف کوونکی. : mahadsunnah.com »



ژباړه: د چاپ کولو او نشرکولو او د توزیع کولو حقوق د هر چا لپاره شته - د ژباړې لپاره پروتنی لینک ووهی: sarhaan.com یا بارکود راکاږئ.

د حج مناسك

بشتو بشتو

1 احرام تړل

يعني (د حج او عمرې عبادت کې د داخلېدلو لپاره نيت کول)

کوم خلک چې په تیاره کې د فضاء له لارې راځي دوی باید میقات ته نږدې بره اسمان کې احرام وتړي.

- د شام او د مصر د خلکو میقات (جحفه) ده 186 کلم .
- د مديني منورې د خلکو میقات (ذوالحلیفه) ده، 420 کلم .
- د عراق د خلکو میقات (ذات عرق دی، 98 کلم .
- د نجد د خلکو میقات (قرن منازل دی، 99 کلم .
- د یمن د خلکو میقات یلملم دی، 99 کلم

2 د قدوم طواف

د کعبې نه به اووه ځل تاوېږې، د حجراسود نه شروع تر اسوده پورې

پیل پای

د صفا او مروا ترمنځ چې کومې دوه شنې نښې دي د هغې وړاندې به عادې تګ کوې خو کله چې دغه دوو نښو ته ورسېدې نو ددواړو ترمنځ به تېزه منده وهې او دا سړو پورې خاص دی

3 د صفا او مروا ترمنځ سعی کول

صفا غونډۍ

د مروا غونډۍ

4 په منی کې شپه تېرول

د نهمې ذوالحجې شپه

په اتمه ورځ به ماسپښين مازيګر ماښآم ماسخوتن او د نهمې ورځې سهار لمونځ کول

5 په عرفات غونډۍ درېدل

نهمه ورځ

- او د نهمې ذوالحجې د ماسپښین نه شروع کیږي د لسمې ذوالحجې تر سهاره پورې
- په عرفات کې به ماسپښين او مازدیګر لمونځ د ماسپښین په وخت کې کوي او مسافري لمونځ به کوي.

6 په مزدلفه کې شپه تېرول

د ذوالحجې شپه

په مزدلفه کې به د نهمې ذو الحجې ماښام او ماسخوتن لمونځ کوي، او د لسمې ذوالحجې سهار لمونځ کوي

7 غټ شیطان په اوو تېږو ویشتل

لسمه ذوالحجه

لومړی د کوچني شيطان ويشتل بيا منځيني شيطان بيا غټ شيطان ويشتل (په دې شرط چې ماسپښين وخت داخل شي)

8 د متمتع او قارن حاجي به قرباني کوي

لسمه ذوالحجه

9 یا سر خریل او یا ویښته کمول

لسمه ذوالحجه

سړی به یا سر خروي، یا به ویښته کموي خو ښځه به د ګوتې په اندازه ویښته واړه کوي



10 د افاضي طواف

لسمه ذوالحجه

11

متمتع حاجي به د صفا او مروا ترمنځ سعي کوي، او یا هغه څوک چې قدوم طواف کې سعی نه وي کړی

12 د شیطانانو ویشتل او منې کې شپه تېرول

یوولسمه دولسمه دیارلسمه ورځ تېرول سوک چه ورستوالي غواړي

غټ شیطان ویشتل

د دعا وختونه

منځینی شیطان ویشتل

د دعا وختونه

کوچنی شیطان ویشتل

13 د وداع طواف

د حیض او نفاس زنانه نه ساقطیږي

- د حج ارکان : چا چې یو رکن پرېښود نو حج یې نه کیږي تر څو چې هغه رکن نه وي راوړی
- د حج واجبات: چا چې یو واجب پرېښود د هغې جبران په دم کیږي

دعمري د اداء کولو مناسک او طريقه

بشتو پشتو

ده سوريي او د مصر د خلکو ميقات (جُحفه) دي، او دا د مکې څخه (186) کيلومتره لري دي.

د مدينى منوري د خلکو ميقات (ذو الحليفة) دي، اوس ورته (أبيار علي) وايي، او دا د مکې څخه (420) کيلومتره لري دي.

د عراق دخلکو ميقات (ذات عرق) دي، او دا د مکې څخه (98) کيلومتره لري دي.

د نجد دخلکو ميقات (قرن المنازل) دي، او دا د مکې څخه (99) کيلومتره لري دي.

د يمن د خلکو ميقات (يلملم) دي، او دا د مکې څخه (99) کيلومتره لري دي.

1 إحرام کول

احرام وايي: په مناسکو د حج او يا دعمري کې دداخليدو او شروع کولوا نيت ته.

هغه کسان چه الوتکه کي راځي حج ته يا عمري ته هغوي به په اسمان کي د خپل ميقات دتيريدو له وخت څخه لږ مخکې نيت کوي.

2 طواف کول.

طواف أووه چکره دي ـ په کعبي باندي ـ چه هر يو چکر د حجر أسود نه شروع کيږي او په حجر اسود باندي ختميږي.

شروع کيدل د طواف

ختميدل د طواف

اووه چکره

د دوه شنو نښو –د راډوونو- څخه مخکې او روسته.او په مينځ کې د دوه شنو نښو تيزه منډه وهل.خو دا منډه خاص دسړو لپاره ده دښځو لپاره منډه وهل نشته.

صفا

مروه

4 د صفا او مروه تر مينځ عادي مزل - سعي - کول،

3 د مقام ابراهيم نه شاته دوه رکعته مونځ کول (که ممکنه وه)

5 د سر ويښتان خر و ل، او يا ورکوټي کول.

د سر ويښته خر و ل، او يا ورکوټي کول دا يوازي دسړو لپاره دي. او د ښځو لپاره صرف ويښته پري کول دي د خپلي کونڅي نه په مقدار او اندازه دکوټې يو بند هومره.

هغه کارونه چه دمحرم لپاره داحرام په وخت کې منع دي.

1. د سر او بدن څخه د ويښتو لرې کول.
2. نوکان پري کول.
3. خوشبو (عطر) لګول او استعمالول.
4. د ځان لپاره يا د بل چا لپاره د واده تړون نيول
5. ښځې ته د شهوت په نيت نيزکيدل
6. ښکار کول.

هغه کارونه چه يوازي دسړو لپاره منع او حرام دي د احرام په وخت کې.

1. جامې اغوستل، يا ګنډلى شوي لباس کول أو هغه ديته وايي: چه د انسان د بدن د کوم اندام فه برابره أندازه ګنډلى شوي وي، لکه قميص يا ډيرتوک او داسي نور.
2. د سر پټول لکه په پګړى او يا خولۍ او يا په بل شي باندي، چه پيوست وي سر فوري.

هغه کارونه چه يوازي د ښځو لپاره منع دي د احرام په حالت کې.

1. مخ پټول په نقاب او يا چادري باندي، خو که چيري پردي خلق يې خواته موجود وو نو بيا به ښځه خپل مخ پټوي په خپل پوړني او حجاب باندي.
2. دستاني (دشکشي) اغوستل

هغه کارونه چه په عمره کې دهغي کول مستحب(غور ه) دي.

1. د احرام د نيت کولو نه مخکې، د نوکانو پري کول، او هغه ويښته لري کول کوم چه دهغي لري کولو ته ضرورت او اړتيا ده.
2. د احرام لپاره غسل کول.
3. د احرام د نيت کولو نه مخکې خوشبو (عطر) لګول په بدن باندي سړو لپاره.
4. سپين ځادر او سپين لنګ اغوستل يوازي نارينه وو لپاره.
5. تلبيه ويل: «لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ ، لَبَّيْكَ لا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ ، لا شَرِيكَ لَكَ» تلبيي معني: يا الله زه حاضر يم، ته هيڅ شريک نلري، زه حاضر يم، يقينا ټوله حمدونه او ثناء ګاني او نعمتونه ستا لپاره دي، او بادشاهي هم ستا ده، ته هيڅ شريک نلري. دا تلبيه به وايي: د احرام د تړلو څخه د طواف د شروع کيدو پورې.
6. يو وره ښکاره کول په طواف کي يوازي دنارينه ؤ لپاره. او طريقه يه داده: چه ځادر به دښي ووري دلا ندي او دکسي -چپي- ووري د پاسه واچوي.
7. د حجر اسود ښکلول او مچه ول.
8. اولني دري چکرو کي به (رمل) کوي، يعني: واړه واړه قدمونه به په جلتي سره اخلي
9. د طواف د پوره کولو نه وروسته دمقام ابراهيم نه شاته دوه رکعته مونځ کول.